مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدنعمان دوست ۲۰۲۱/۰۶/۲۱

مُقری، روحیه ورکوونکی هنرمند

له کابله ښاریان داسي په تېښته وو لکه د غرڅو په ډله چي وړي پرانګان ور منډه کړي. کابل نړیده، کابل په وینو لړل کیده او د کابل عزتونه لیلامیدل. بي وسه کابل د تنظیمونو خونړیو منګولو ته غورځیدلی و او هر چا کوښښ کاوه چي د جنرال اختر عبدالرحمان دا شعار – Kabul must burn! (کابل باید وسوزول شي)، په یواځي ځان عملي کړي.

په همدغو شپو ورځو کي د یوه میلمه کوربانه وو. دا پخوانی نظامي صاحب منصب هم له روان وحشته، له خپلي کورنۍ سره راتښتیدلی و.

اوړي کي د لغمان هوا ګرمه وي. موږ به لمر لویدو سره سم بامونو ته ختلو، هملته به مو د شپي ډوډۍ خوړه او هملته به ویده کیدو.

میلمه سره د بام په سر ناست وم. هغه د کابل کیسي کولي، د سترګو لیدلی حال یي بیانوه. اسمان کي ستوري غونچه غونچه کیدل، تا به ویل دوی هم کیسي ته غوږ غوږ دي. یو دم به اسمان کي نرۍ کرښه جوړه شوه، تا به ویل بیا په کابل ښار میزایل وتوغول شو.

میلمه خپه و. هغه ته ناسم احوال راغلی و. چا ورته ویلي و چي عبدالله مقری ګلم جمو له موټره ښکته کړی او بیا یي قتل کړی دی. د میلمه چورت انجړ و.

هغه ویل:

چي کله به له هري خوا جګړه شدیده شوه، نو چي پوستو کي به مو د مقري استاذ په غږ کي له رادیو دا سندره واوریده:

چاته به سر ټیټ نکړم، ځو چي روح مي تن کي وي
چاته به سر ټیټ نکړم، ځو چي روح مي تن کي وي

دلته افغانان اوسي، دا د توریالو وطن – دا د ننګیالو وطن دا د ننګیالو وطن

نو ویني به مو تودي شوي، مورال به مو لوړ شو او مقاومت به راته اسانه شو.

میلمه دا هم ویل چي د مقري په غږ کي انقلابي او ولوله انګیزو سندرو به د راکټونو تر بریدونو لاندي ښاریان هم دومره جذباتي کړل چي ویره به یي له سترګو وتښتیده او داسي به بي پروا ګرځیدل لکه هیڅ خبره چي نه وي.
میلمه د هغه وخت کیسي کولي چي شورویان وتلي وو. ډاکټر نجیب د سولي چیغي وهلي خو مقابل لوري ته سوله کسر شان ښکاریده. خپل زور ته مغروره وو. په زور نیولو ورته بل ډول خوند ورکاوه چي په پایله کي یي ټول وطن د خپل خوند قرباني کړ.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

د میلمه په دې خبرو ماته هرډیور کیمپ رایاد شو. هلته به مې په څه خواړ کابل رادیو اوریده.
او چې کله به مې دا سندره واوریده:

دا د ازادۍ خاوره دا د جګو غرو وطن
دا د ننګیالو وطن، دا د ننګیالو وطن

خپل وطن پسې به مې ماشوم زړه، نړۍ نړۍ څړیکې وکړې. د خپلې خاورې د جدایۍ تاو به مې سترګې راډکې کړې او...

مرحوم مقري د وطن د درد سندرې وویلې، انقلابي او حماسي سندرې یې وویلې. د افغاني غرور د ژوندي ساتلو سندرې یې وویلې او...

بالاخره هغه مقرۍ چې هیڅا ته یې سر نه ټیټاوه، د اجل استازي ته یې سر ټیټ کړ او د تل لپاره یې دا خاکې کُړه پریښوده.

کاش،

د وطن په مینه کې دې ستې بلبل خو د خپل ګلشن ښې ورځې هم لیدلې وای، سخت ډک زړه روان شو.

الله دې وبخښي.

نعمان دوست

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ